مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد طاهر ثابت ۲۰۲۰/۰۵/۲۱

د افغان بدمرغۍ په مینځ کې

د ګوریلا او ګوریلایي ضد جنګونو د بری لاملونه

ګوریلایی جنګ د حاضر حکومت او یا د پردیو د اشغال د نړولو لپاره شروع سوی وی چه د زور او جنګ له لیاری خپل هدف ته ورسیږی. ګوریلا ضد جنګ بیا د حکومت لخوا د ګوریلایانو په ضد شروع سوی وی چه خپل ځان د نړیدلو نه و ژغوری. حکومت هم د زور او جنګ نه کار اخلی.

ګوریلایي جنګ:

ګوریلا جنګ د جنګیالیو شمیره، د مالی توان او د عامو خلکو ملاتړ غواړی. دا جنګ اول لیږ کسان لری او سوکه سوکه د هغوی ټولی غټیږی. کم خلک او کم مالی امکانیات د ګوریلایی جنګ اصلی اسباب دی خو کله چه لوی سی نو بیا د مخامخ جنګ کولو لپاره اماده کیږی چه کیدای بیا له همدی کبله ناکام سی. د عربو جنګیالیو ماتی په عراق او سوریه کی د دی شاهدی ورکوی. د کمو جنګیالیو او مالی توان له کبله ګوریلایان کوچنی ټولګی جوړوی ترڅو په اسانه وګرځیږی او په وړیا په ډیره منطقه کی زیاته ګډوډی د زیات وخت لپاره جوړه کړی چه کله د جنګ د اصولو په چوکاټ کی وی او کله بیا وحشت نه کار اخلی. مثالونه نظامی کسان تر هدف لاندی نیول دی او یا یی د بیدخله خلکو وژنه او ټکول دی. هغوی ډزی کوی او تښتیږی. د ګډوډی زیاتوالی د حکومت ناکامی ښیی او په دی توګه د هغوی اعتبار له مینځه ځی. دا چه حکومت فیکس او ثابت ځایونه لری او د هغوی ګوریلا ضد جنګ ډیر مصرف لری د اوږدی زمانی په مخه د حکومت بری مشکل وی ځکه د هغوی اعتبار کمیږی او داخلی مالی مکانات یی هم ورو ورو ټیټیږی.

د حکومتی او یاغیانو جنګیالیو او مالی توان زیاتول کله د بهرنیو په مټه وی او کله بیا د عامه خلکو او کله بیا د طبعی او نورو زیرمو په کومک ولاړ وی. بهرنی کومک دوامدار نه وی. د فلسطین او روسیی علاقه یی ښه مثال دی. بهرنی کمک د سیاسی، تسلیحاتی، مالی او تخنیکی همکاریو نه جوړ وی. ځومره چه داخلی توان قوی وی په همره اندازه خارجی کمکونه لیږ وی. د مالی توان زیاتوالی د جمګ د غزیدو او دوامداری سبب کیدای سی. د سولی امکانات کم لیدل کیدیږی ځکه د خورد و برد امکانات زیات وی او د جنګ د ګټلو خوبونه لیدل کیدای سی.

د عامو خلکو کمک د سیاسی او مذهبی مفکوری په اساس او د جنګیالیو په اخلاقی رویی باندی تړلی دی. خو یاغیان هلته یو سیاسی حرکت بلل کیږی چه د خلکو په مینځ کی نفوذ پیدا کړی. دا هله کیدای سی چه هغوی د ظلم په خلاف او ایدیالوژیکی مرامونو د لاسته راوړلو لپاره راپورته سوی وی او هغه زیات ملاتړی ولری. ځومره چه عام خلک د یاغیانو سره شریک شکایتونه لری تر هغه یاغیان د خلکو لخوا تایید کیږی. دا بیا د یاغیانو ارادی مضبوطه وی او د انسانی توان او جنګیالیو د ډیروالی سبب کیږی چه هغوی خپل مرګ ته حاضریږی. خلګ د یاغیانو ایدیلوژیک او روحی، مالی او انسانی کمک کوی او په دی ډول یاغیان د حکومت په مقابل کی د خپل ضعف امکانات کموی. د خلکو کمک د یاغیانو د هویت لپاره لازم څیز دی چه نه تنها یاغیان له حکومت نه د عملیاتو په وخت کی نیاموی بلکه په سیاسی ډګر کی یاغیان د رسمیت بللو وړ ګرځوی ترڅو د موجود حکومت لپاره ښه بدیل وبلل سی. یاغیان باید وتوانیږی چه د ګوریلا ضد عملیات خنثی کړی او یا په هغوی بری ومومی. تکړه یاغیان باید خپل جنګیالی زیات کړی او تلفات و زغملای سی او بالاخره د مخالف شکست حتمی کړی. خو دا دا معنی نلری چه یاغیان بیځایه خطرونه ومنی او بالاخره هغه د دوی حرکت ناکام کړی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

گوریلایي ضد جنګ:

د ګوریلایانو په ضد دوه لیاری دی چه هغه باید له مینځه یوسی. د ګوریلا ضد عملیات او د یاغیانو سره عادی زور ازمایلول. که د مخالفینو مرکزونه معلوم وی او یا یاغیان مخامخ جنګ ته حاضر وی نو جکومت د هغوی په مقابل کی هر لازم قدرت استعمالوی. دا د ملکی خلکی په ژوند ډیر تاثیر کوی او د حکومت یوه ضعیفه بڼه ښیی چه د خلکو د نفرت سبب کږی. دوهمه لیاره منظم ګوریلا ضد جنګ دی چه انګلیس او امریکایان پکی زیات ماهره دی.
ګوریلا ضد جنګ د ګوریلایی جنګ بل مخ دی چه د حکومت لخوا تعمیلیږی. فرق یی دا دی چه ګوریلا ضد جنګ د حکومت جنګ دی چه معمولا په انسانی او مالی توان پیاوړی او د خلکو کمک ته ندی اړ. دا جنګ پراخ وی او د جنګیالیو کمبوت نلری. په اولی مرحلی کی همداسی وی چه وروسته کیدای سی دا برتری وبایلی او یاغیان باندی زورور سی.
حکومت د یاغیانو وضع مطالعه کوی او د هغوی د ضعف نقات پیدا کوی او بیا د هغه په وسیله خلک د یاغیانو نه بیله وی او بیا یاغیانو ته شکست ورکوی. د دی تاکتیک ضعف دا دی چه د منطقی له معلوماتو نه بیخبره وی. دا معلومات باید د خلکو له خوا ورکړل سی او چیری چه مخالفین په منطقه مسلط وی داسی معلومات مشکل وی. حکومت هلته معلومات پیدا کولای سی چه د منطقی خلک باور ولری چه دوی د حکومت لخوا حمایه کیدای سی. که نه حکومت کیدای سی مخالفین وشړی نو که عام خلک له دولت سره همکاری ونکړی کیدای سی مخالفین بیرته را ستون شی او نوی مرکزونه جوړ کړی. دا هلته کیدای سی چه خلک او حکومت یو نظر ولری او د مخالفیونو افکار د ملت له افکارو نه بیګانه وی. حکومت باید همیشه له زور نه کار وانخلی ترڅو مخالفین له مینځه یوسی. مخالفین کیدای سی نن ناکام وی خو بیا د سبا لپاره تیاری ونسی او بیرته راغبرګ شی. دا امکان هلته نسته چیری چه حکومت خلک له ځانه نوی بیزاره کړی.
حکومت هلته کامیابیدای سی چه د یاغیانو شمیر ورځ په ورځ کمیږی ترڅو چه نور د ځان بیرته په پښو درولو امکان یی نوی. دا هلته کیدای سی چه خلک له یاغیانو نه متنفر وی. حکومت کولای سی د یاغیانو د درامد لیاری و تړی. مثلا که هغوی د طبعی منابعو نه استفاده کوی هغه د زور له لیاری تر خپل کنترول لاندی ونیسی. خو دغه لیاره کامیابه نسی بلل کیدای ترڅو ملت له مخالفانو نه وی بیل سوی.

د افغانستان وضعه:

دلته باید د حکومت او طالبانو حاضره سیناریو ته متوجه سو.
د کرزی او غنی اداری د امریکایی اشغال نه زیږیدلی دی. د دی ادارو شعارونه په امریکایی شعارو ولاړ دی:ملت، ملی ګټی، دیموکراسی، جمهوریت، د قانون سرداری، بشری حقوق، او نور داسی. دا شعارونه تیوریک او نظری بڼه لری. د هغوی عمل ښیی چه دوی خپل شعارونو ته وفادار ندی او په عملی توګه یی ښولی چه د دوی شعارونه صرف د عامو خلکو د احساساتو را پاروں دی. د خاوری او ملت نه دفاع او د پردیو اشغال دوه ضد خبری دی. ځوک چه د خاوری او ملت او یا د ملی ګټو دعوا کوی هغه د پردیو په اشغال کی نسی غوښتلای او د پردی استعمارګرو اشغالګرانو په حضور کی نه له خاوری او نه له ملت ځخه د دفاع دعوا کولای سی. دوی اول باید بهرنیان و شړی او بیا به د دوی په خبره باور کیدای سی. که بیا هم د خاوری او ملت د ازادی دعوه کوی دا د دوی په پروایی دلالت کوی. دیموکراسی د توپک او چاړی په سر دیموکراسی نده. هغه د کمونستانو د انقلاب نه هم بدتره ده. کمونیزم خو یو څه ریښتیا ویل چه د پلوتاریی په دوره کی زور ازمایل دی. جمهوریت نسته د هغه په ځای په پنځه دیرس ملیونی قام باندی د پردیو په اراده ولاړ د نهسوه زری او اتهسوه زری حکومت دی. د قانون په ځای د مرمی زور دی بهرنیان یی په خپل مزدورو تپی او مزدوران یی بیا په افغانانو. او کله چه بیا خلک د حق غوښتنه وکړی نو له مرګ او ټوکرتیا نه بل څیز نه وینی. لنډ مثالونه یی د کندوز او غور په مظاهره کونکو ډزی او مرګ او ژوبله ده. د جاغوری په حادثه تحقیقات کیږی خو د غور په مړو څوک سترګی لا نه رپوی.
د غنی باچاهی په ښارونو کی ده. د هغوی مصارف امریکه او د هغی د بندګانو په غاړه ده چه البته هند او ایران ځنی مستثنی دی. د غنی عوائید هم د ښارونو او بندرونو نه راځی. په کلیو کی توان نلری. په همدی ډول د غنی مالی او عامه پشتوانه هم د ښارونو خلک دی.
د غنی جنګ د ظالبانو او د کلیوالو په خلاف دی. د هغوی چاپی او بمباریوی هم په کلیوالو باندی ترسره کیږی چه په نتیجه کی د بیدخلو کلیوالو مرګ او ژوبله ده. غنی او د هغه لکی دا کلیوال ټول تالبان بولی. امریکایانو په کلیوالو منطقو کی هر دوه پښی جائز هدف بللی وو چه هغه کتمت غنی هم عملی کړی دی. هغه کسان چه له کلیو خبر نلری باید د تالبانو روزمره راپورونه ووایی که د ریشتیا لیوال وی. په هر حال دا چه افغانستان شهری بڼه نلری نو اکثریت خلک د ښارونو نه دباندی دی. له دی کیله د غنی اداره به د عامه خلکو له کمک نه محرومه وی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

غنی او د هغه ساتونکی قواوو جوماتونه شهیدان کړی، شفاخانی یی بمبارکړی، او جنازی او ودونه یی هدف بللی دی. دا په کلیو کی د هغه په بدنامی تمامی سوی.
د تالبانو سوله د امریکایانو، روسانو، پاکستان، چین، او ایران په موافقه راځی. هغه چه له دی نه د باندی ساتل سوی دی هغه هندوان دی چه د پښتنو او اسلام افراطی دښمنان دی. د مشهور هندو پسنده پښتانه غفارخان قوم او پالونکی اوس د هندوانو سره ښی علاقی لری او کیدای سی دا سبب وی چه د هند افراطیان د غنی نه سوا په افغانستان کی له بل حکومت سره د جنګ لپاره اماده وی. دا خبره هغوی کړی او کیدای سی چه په دی سبب غنی د جنګ نغاری ډنګولی وی. په دی اساس ویلی سو چه د امریکایانو له وتو نه وروسته به غنی د سوال لپاره د هندوانو دروازی ټکوی او لږ امګان لری چه د روسی او ایران و چارواکو ته خوله جینګه کړی. د وروستنی دوو دولتو کمک به افغانستان له اوږده جنګ سره مخ کړی خو هندوان کیدای سی د پیسو او د شر د چلونو نه سوا چه اوس تازه یی له اسرائیلو نه زده کړی بله د کمک لیاره ونلری. یواځی هوایی کولای سی د سلاوو سیلاب په افغانستان راکوږ کړی. خو کله که هوایی لیاری بندی سی نو د هوا له لاری د هندوانو کمک هم بندیدای سی.
طالبان د افغانستان حکمروایان، له حکومت نه شړل سوی، او د اشغال په ضد جهاد کونکی او د اسلامی حکومت غوښتنکی دی. د هغوی شعار اسلام، شریعت، او عدالت دی. زما د معلوماتو سره هغوی امن او عدالت لری چه انی له ښارونو ورته خلک راځی. که یو طالب مضر وی او خلک شکایت ځنی وکړی نو هغه اقلا تبدیلوی او په ځای یی نوی کس مقرروی. دا د دوی د زور سبب دی.
هغوی هم انتحاری عملیات کړی او ږانده ماینونه یی اینسی چه زیات تلفات یی په ښارونو کی او لږ یی په کلیو کی دی. هغوی د اربکیانو له کبله په اربکی کلیو باندی جنکونه کړی دی. په دی کی بیدخله وګړی مړه او یا ژوبل سوی دی. دا چه څومره په دولتی خلکو شوی احصایی یی دقیقه نده معلومه. هغوی د دولت بیضرره کسان نیولی او بیرته یی پریښی دی. دا دا ښیی چه د امریکایی او د کابل د اداری په خلاف صرف مضر کسان نیسی او یا یی وژنی او دا کیدای سی د تالیبانو لپاره په ښارونو او نورو ځایو کی خوشبین پیدا کړی.
د تالیبانو زیات دښمنان ښاری وګړی دی. که دا کسان ټول له غنی سره یوځای سی نو د جنګ دوام زیات لیدل کیږی. خو دا هم باید ووایو چه د کار د کمی له کبله کیدای سی ښاریان د ښارونو نه ولاړ سی او د غنی اداره یوازی کم خلکو ته اړه سی. په دی هکله دا لری نده چه تالبان به د مجاهدینو ستراتیژی غوره کړی. که په ښارونو بندیز ولګول سی نو دا به په خپله د کابل اداره راورپرزوی.
د طالبانو اتکا په پاکستان ده. دا چه څومره ده چاته په دقیقه او مستند ډول نده معلومه. خو که د امریکا او د هغه بنده ملکونو په مقابل کی یی مقایسه کړو نو کمه ده. تالبان به د سلاح مشکل ونلری. مالی او انسانی کمکونه به د کلیو له لیاری دوام ولری. چه دا ټول به د جنګ د اوږدوالی سبب شی.

نتیجه:

د پورتنی او نورو ټکیو په بنا مونږ هر لوستونکی ته دعوت ورکوو چه د افغانستان و آینده ته متوجه سی. البته دا هیله له افراطی سیکیولرانو او تالبانو نه نسو کولای. خو هر هغه کس چه د انسان د ژوند په حرمت عقیده لری نو هیله ده چه د هغه لپاره د خپل عقیدوی چوکات په مینځ کی د جنګ په ځای د سولی لیاره ومنی. شر اچونکی تبلیغات پریږدی او د سولی او حقیقت د روښانولو لپاره نوی لیاری پیدا کړی او هغه بیا خپری کړی.
هیله ده چه د یوه او بل په ګټه د چټتیاتو په ځای یو افغانی هراړخیز لیدلور ولری او دهغه په مټه د جنګ داخل افغانان له حقیقت سره اشنا کړی ترڅو هغوی و خپلی نیمګړتیا ته متوجه سی.
ګوره ستا هره خبره د مرګ سبب کیدای سی او په دیکی ته له قاتل څخه کم نه یی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ